د پالیسی پاڼو د خپروني لړۍ

د افغانستان په ښاري سیمو کې د بیوزلۍ لمنځه وړل

# بیوزله کورنۍ چې هڅې کوی د افغانستان په ښارونو کې ژوند وکړی د هغو لپاره دی د خطر لوړه کچه راکمه شی


۱۳۸۴ د وری میاشت | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره | ستیفن شوت او برنډې بویر


محتوا


ګواښونه او حل کوونکي ستراتیژی په ډول ډول شکلونو منځته راځي ۱

د حل کوونکې ستراتیژی لومړی بیلګه د سپماو راټولول او د شتمنیو پلورل ۲

د حل کوونکې ستراتېژۍ دویمه بیلګه د عوایدو ډولونه ۳

حل کوونکي مکانیزمونه چې ټولنیز او کورنۍ اړیکې ګواښوي ۳

وړاندیزونه ۴


## سریزه

د ګواښونو کچه چې بېوزله کورنۍ ورسره مخ دي، کولای شي په ګوته کړي چې آیا دوی کولا ی شي د یوه دوامدار معیشت د پانګې زمینه یا یې زیاتوالی د بېوزلي په له منځه وړلو کې منځته راوړي او که نه؟ ګواښونه په بېلا بېلو ډولو منځته راځي له روغتیایي او امنیتي ګواښونو څخه نیولې په اضطراري حالاتو کې د پیسو تر کمښت پورې ډېری خلک[1] په دې باور دي چې د دې ګواښونو له منځه وړل دا ایجابوي چې هغو موسسو او سازمانونو ته وفادار پاتې کېدل لازم ده کوم چې د معیشتونو په تامین یا هر ډول اوږدمهالو تخصیصونو فعالیتونه تر سره کوي، خو په داسې حکومت کې لکه د افغانستان چې په هغه کې سازمانونه او موسسې په عمده توګه د بهرني شتون لرونکي مخورو او ځواکمنانو ته د کړنو او فعالیتونو لرونکي یا نه لرونکي، څه تېرېږي؟

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دافغانستان په دریو ښارونو کې له اوږدو څېړنو تر لاسه شوي شواهد دې ټکې ته[2] ګوته نیسي چې د ښار ډېری محرومې کورنۍ په ورته وخت کې د لوړې درجې له ګواښونو سره مخ دي له دې مخې دغه کورنۍ د دې وړتیا نلري چې په دوامداره توګه خپلې شتمنۍ وساتي یا زیاتوالۍ پکې راولي او غالبا د ژوندي پاتې کېدو لپاره اړ دي چې خپلې دارایې ګانې ولګوي.

دغه پالیسی پاڼه ارزوي چې کورنۍ څرنګه د عمدتا ممکنو اغېزمنو ستراتېژیو چې عمدتا دوی د ګواښونو په کړیو کې ایثاروي ښکېل کېږي په ډېرو حالاتو کې کورنۍ تقریبا د هېڅ سازمان له خوا یې ملاتړ نه کېږي ځینې وختونه حتا خپلې موسسې چې د دوی د ملا تړ لپاره ګمارل شوي دي د دوی د پرمختګ خنډ ګرځي تر دې چې د دوی معیشت تامین کړي په دغه لاسوند کې د سیاست جوړونې لپاره وړاندیزونه د دغو مسئلو لپاره په ملي او سیمه ییزې کچې شوي دي.

---

## ګواښونه او حل کوونکي ستراتېژۍ په ډول ډول شکلونو منځته راځي

د دې اولیزې نور لاسوندونه، د هغو بېلا بېلو ګواښونو تفصیل چې د افغانستان د ښآري بېوزله پرتو سیمو کورنیو ته شته روښانوي. دغه ګواښونه لاندې موردونه رانغاړي.

- د تصدۍ ناامني (ځمکه او کور) د کور د جوړولو لپاره د قانوني ځمکې نشتوالۍ پدې مانا ده چې ډېری ښاري اوسېدونکي په نا رسمي او د ځمکې او د خپلو کورونو په وړاندې د مالکیت د حق د نلرلو په برخو کې ژوند کوي او تل د ځمکې د بېرته سپارلو ګواښ دوی ته شته.
- د چوپړ د وړاندې کولو نه شتون او د زېربنا پراختیا د استوګنې په نارسمي سیمو کې ژوند کول غالبا پدې مانا ده چې کورنۍ له ښاري خدمتونو څخه لکه د بد رفت سیستم، اوبه او له روغتیا ساتنې څخه بې برخې دي دغه مسئله همدا شان ښوونځي او کلینیک ته د لاسرسي لپاره د یوه لوی واټن وهل دي. هغه چاپېریالونه چې روغتیا ساتنه پکې نشته د آسانتیاوو او خدمتونو د وړاندې کولو له نشتوالي سره یو ځای، د بې برخو خلګو , محرومینو سلامت ته د لویو ګواښونو د جوړېدو لامل کېږي.
- اشباع کوونکي او د ښاري کار ناانډوله بازارونه د کار په موندلو کې پاتې والی کورنۍ د بنسټیزو لګښتونو او نورو ورځنیو اړتیاوو لپاره د پیسو د نشتوالي له ګواښ سره مخامخ کوي دغه مسئله کېدای شي کورنۍ اړ باسي چې له ټولنیزو اړیکو څخه پور اخیستلو ته، په ځانګړې توګه په کړکېچنو او اضطراري حالاتو کې تکیه وکړي.
- فصلي او ژمي پوری اړوند کوابنونه د ریښتینو فزیکي ګواښونو له شتون څخه پرته چې له ناوړې هوا

## د لیکوالانو په هکله

ستهیفن شوت د دغه څیړنیزه اداری د ښاری معیشتونو پروژه له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۲ پوری اداره کوله اوس مهال، نوموړی د ځمکو د پالیسی او اداری سمون د یوی پروژی د ډلی مشری په غاړه لری، دغه پروژه د بین المللی پرمختګ لپاره د برتانیې سازمان، آسیایې انکشافی بانک او د کرنی او اوبه لګونی وزات په ګډه مخکی ځی او برنډې بویر په دغه اداه کې د ښاری معیشتونو، جنسیت، سیاسی اقتصاد او حکومت داری مسایلو په اړه خپرونی د ۲۰۰۲ کال تر منځ پوری اداره کولی په نږدې تیر وخت کې نوموړی په اړونده مسایلو کې زیاتو امریکایې سازمانونو سره د مشاوری په توګه کار وکړ

---

۱ دغه اوږدمهاله څېړنې په ترڅ کې د کابل، هرات او جلال آباد ښارونو کې ,, کورني مطالعه شوی او د لنډمهالو اکتشافي مطالعو په وسیله په مزار شریف او پلخمري کې بشپړ شوي دي د دغې څېړنې د تګلارې او موخو په باره کې د زیاتو معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره دبېل جي او ستیفن شوټ د ښاري معیشتونو، کابل د دغه څیړنیزه اداری خپرون وګوری.

۲ د دغو اسنادو په هکله د جزئیاتو د لاس ته راوړلو لپاره د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز (AREU) وېبپاڼې ته مخه وکړئ www.areu.org.af

څخه د هغو کسانو لپاره چې د ټيټو معيارونو په کورونو کې ژوند کوي راپورته کېږي،(د کار موندل کېداى شي له فصلونو سره سم ډېر ګران يا آسانه شي، نوسان کند او د دې لامل شي چې ځيني کورنۍ د ژمي مياشتې له هېڅ ډول عوايدو څخه پرته تېرې کړي).

- **لېوالتيا/د ژوندانه پېښې**.ولور او د داسې پېښو د پيسو د تامينولو اړتيا لکه واده، د جنازې خاوروته سپارل او د عظيم الشان قرآن د ختم مراسم، غالبا کورنۍ اړباسي چې خپلې بسمنه شوې پيسې ولګوي او ډېر لوى لوى پورونه پر خپلو ځانونو ومني.

پداسې حال کې چې په دې سطحه کې ځيني واړه ګوانبونه رامنځته کېږي بايد يادونه وشي چې په لوړه کچه کې داسې جوړښتونه او کړنلارې هم شته او دايې په ګوته کړې چې دا جوړښتونه او کړنلارې د داسې ګوانبونو په منځته راوړلو کې لکه نابرابري، طبقاتي اړيکې، استثمار، نامسئوله دولتي چارواکي او ټولنې څخه د غړيتوب ټولنيز محروميت.[3] کې ګډون لري له دې مخې د دغو ګوانبونو د مخنيوي په منظور يا د هغوى د اغېزو راټيټول، دغه لويې مسئلې بايد وړاندې شي په ټوليزه توګه، کورنې د ګوانبونو د ټيټولو په منظور يا يې د اغېزو د ټيټولو په منظور دوه ډوله ستراتېژۍ په کار وړي.

- وقايوي يا راتلونکي جوړونکې ستراتېژۀ په پام کې لري چې په يوې منونکې توګه د امنيت د تامين له پلې شوې کچې څخه د ګوانبونو په وړاندې ساتنه وکړي دغه ډول ستراتېژۍ غالبا د مادي پانګو د جوړول شکل لکه د استوګنې يا انساني پانګې (د تحصيلي لوړې کچې يا د نوو مهارتونو جوړول) يا په توليدې دارايې ګانو کې پانګه اچونه لکه مالداري، دوکان، کراچۍ خپل ځان ته نيسي لکه څرنګه چې اوس ورته اشاره کوو، د کورنيو عوايدو د سرچينو پراختيا موندل کېداى شي هم يو وقايوي او هم يو منونکى (کنش پذير عمل وي تلپاتې، دايمي) کار د وقايوي ستراتېژيو د اجرا شونتيا ته ښه والى ورکوي په ټوليزه توګه د برياليو وقايوي ستراتېژيو اجرا د پانګو د وزارت ړومبۍ پراختيا ته اړتيا لري.

- **حل کوونکې** (ګره ګشا) ستراتېژۍ او منونکي ګامونه هغو سختو روحي ګذارونو او پېښو ته د يوه غبرګون په نامه چې معمولا د شتو پانګو د وزارت انصراف ته ختمېږي (يا دا چې د هغوى په کموالي ختمېږي)، د مثال په توګه له ښوونځيو څخه د ماشومانو ايستل او په کارونو باندې د هغوى ګمارل، د کورنيو د غړو لېږل د خوارکي توکو د لګښت د سپما لپاره، د ارزانه خوراکي توکو د محصولاتو مصرف يا د تکفل لاندې غړو کمولی تر مطالعې لاندې ډېرى کورنۍ په حل کوونکې (ګره ګشا).


په وروستۍ برخه کې، څو مثالونه د عمدتا منونکو حل کوونکې (ګره ګشا) ستراتېژيو په باره کې چې تر ټولو په مروجه توګه په څېړنيزه بيلګه کې کې ليدل شوي دي وړاندې شوي دي.

## د حل کوونکې ستراتيژۍ لومړی بيلګه: د سپماوو راټولول او د شتمنيو پلورل

تر مطالعې لاندې ډېرى کورنۍ د پيسو د کمښت په وختونو کې يې يو څه پيسې پاسره کړې دي په ځاى يې هره سپما چې دوى کړې ده غالبا يې د مادي مالکيت شکل ځان ته غوره کړئ دئ د ګرانو ځيزونو مالکيت کولاى شي د ملاحظې وړ دارايي پر ځاى له خطر څخه د ساتنې لپاره وکارول شي په حقيقت کې له ډېرى هغو کورنيو سره چې مرکې ورسره شوي دي له مادي شتو څخه لکه ګاڼې، څاروي يا په ځينو سيمو کې چې استوګنځايونه لري ترڅو وکولاى شي په هغو وختونو کې چې عوايد يا اضطراري پيسې کمښت مومي پر ستونزو برلاسي شي لکه څرنګه چې په لومړي شکل کې ګورئ د مادي دارايو د پلورلو د کچې غوڅ اکثريت د بنسټيزو لګښتي اړتياوو د رفع کولو په منظور کېږي او په دې توګه د ډېريو کورنيو د عوايدو او د کار کموالى، د خپل ورځني ژوندانه د لګښتونو په تامين کې جوته کېږي د درمليزو بسمنو ورکړه، د پورونو ورکړه او له نورو اضطراري حالاتو سره مقابله د مادي دارايو د پلورولو لپاره له نورو عمومي لاملونو څخه دي د دارايو د پلورلو ځيني نور لاملونه (په ځانګړې توګه په لړه بيه) د جغرافيايي موقعيت (په اساس توپيرکوي او د تودولو د هزينو (په کابل کې)، د مراسمو د هزينې ورکړه، په جلال آباد او هرات کې) او په دارايو کې پانګه اچونه لکه کورنې او کارې ،خر، کراچۍ، کې شاملېږي.


تر مطالعې لاندې کورنيو د ګران بيو ځيزونو ارزښت ډېر لږ ده په کابل کې د کورنيو د متوسط دارايو (شتو) ارزښت (له کور او ځمکو څخه پرته) ۵،۱۷۵ افغانۍ (د ۱۰۳ امريکايي ډالرو په ارزښت) ده، پداسې حال کې دغه رقم په جلال

*لومړی شکل*: د دلايلو پر بنسټ د مادي شتمنيو خرڅول




[3] وود جي ۲۰۰۳ مصنوعي پاتي کېدل: بېوزله پاتي کېدل، د فاوسټي معاهده Faustian Bargain ته بېرته راګرځي ۴۵۲

*دویم شکل* : د هغو کورنیو فیصدی چې له ۲۰۰۰ افغانیو څخه د لږ ارزښت شتمنی لری




آباد او کې هرات په ترتیب ۲۸۰۰.۴٪ افغانۍ، معادل په ۸۵ امریکایي ډالرو او ۵.۰۹.۲، معادل په ۸۵ امریکايي ډالرو دي لکه څرنګه چې په دویم شکل کې ښودل شوي دي د پام وړ یو شمېر کورنۍ که چېرې ګران بیه څیزونه په اختیار کې لري، د هغوی د دارایي ارزښت له ۲۰۰۰ افغانیو څخه لږ ده دغه کورنۍ له کومه ځایه چې دغه کورنۍ ډېر نشي کولای له بهرنیو ګواښونو سره د مقابلې په منظور د خپلو دارایانو په پلورلو تکیه وکړي د ټولنې د نورو قشرونو په پرتله له زیان منونکو حالاتو سره مخ کېږي.

همدا شان، د هغو فصلونو په اوږدو کې چې ګڼه ګوڼه په کې زیاته وي د پولي زېرمو راټول، په دوبي کې کله چې لنډمهال کار ته لاسرسي، د نورو فصلونو په پرتله آسانه وي او د سوند د لګښت په کچه کې د پام وړ کمښت په دلیل، ډېر عواید او پیسې له آزاد کار څخه تر لاسه کېږي، د پام وړ په کچې ندي شوي او دغه پیسې د کورنیو د تامین لپاره په ژمي کې پوره ندي په حقیقت کې، اصلا د موده لرونکو زېرمو کچه ډېره لږه ده، ځکه چې هر چېرې چې یو څه پیسې تر لاسه کېږي، باید په پورونو کې ورکړل شوې وای او د لګښتونو کچه هم د حاضرو عوایدو د تامین په منظور باید زیات شوي وای.


## د حل کوونکې ستراتیژۍ دویمه بیلګه: د عوایدو ډولونه

معیشتونو ته ډولونه ورکول له ډېره وخته را پدېخوا د یوې عمده ستراتیژۍ په نامه د ګواښونو د تر لاندې کېدو د کچې د کمښت لپاره منل شوي دي له دې سره سره پدغې څېړنیزې طرحې کې نه داسې کورنیو کچه شته چې بریالي شوي وي چې د خپلو عوایدو سرچینو ته په متناسبه کچه ډولونه، تنوع ورکړي او نه داسې لاسوند شته چې وښیي چې د لږو عوایدو لرونکي فعالیتونه د دوامدار معیشت په تامین بدل شوي دي.

په څېړنیزې نمونې کې د هستوي کورنیو لوړه کچه پدې مانا ده چې عوایدو ته د ډول (تنوع) ورکولو ته د پام وړ هڅه ده چې کار کولو ته د ماشومانو د لېږلو په شکل تر سره کېږي له دې سره سره له دغې کاري سرچینې څخه راپورته شوي آني ګټې کیدای شی چې د ماشومانو د زده کړې په بیه لاس ته راشي او په دې توګه د سیالۍ غوښتونکو مهارتونو د جوړولو اړونده فرصتونه د بهتره کارو بار په جوړولو کې محدود کړي دغه کار د داسې توازونو ښکارندوی دی چې غالبا د ښار محروم قشر د امنیت د جوړولو او هوساینې په موندلو کې یې مخ ته پراته دي ښایي دا کورنۍ له داسې ستراتیژۍ ګانو سره مخ شي چې بیرګنده ګټی ولری خو د لږ څه اوږدمهال تامین په بیه تمام شی.

ځیني کورنۍ د خپلو عوایدو د کچې د لوړولو لپاره له دې سره سره چې خپل ماشومان کار ته لېږي د ښځو په مزدورۍ هم تکیه کوي ډېرې کاري فرصتونه

*دریم شکل* : د هغو کورنیو فیصدی چې یوازی د عاید په یوه منبع ډاډه دی




کورني دي او له دې مخې د بېوزلې د حالاتو په کمولو کې یې لږه اغېزه لرلې ده په کاري ځواک کې د ښځو د ګډون کچه د جغرافیایي موقعیت پر بنسټ کوي هرات ښار کې د نورو ښارونو په پرتله زیاتره ښځې په کار بوختی دی او جلال آباد پدې برخه کې تر ټولو ټیټه کچه لري.

لکه څرنګه چې دریم شکل کې یې ګورئ، په حقیقت کې د جلال آباد کورنۍ د عوایدو د سرچینو تر ټولو لږ ډولونه لري او دا د دې لامل کېږي چې دغه کورنۍ تر ټولو څخه زیات زیان منونکي وي او دوی به ونشي کړای چې له خطرونو سره مقابله وکړي د ښځو او د ماشومانو ګډون هم په ډېرو مثالونو کې ښیي چې څرنګه د دوی کاري ځواک پېښنو ته په ځواب ورکولو کې زیاتره د یوې وقایوي ستراتیژۍ په نامه کارول کېږي میاشت په میاشت تغییر مومي.

له ښار څخه ښار ته کډوالې د ګاونډیتوب په اړیکو بآندې تکیه کول، د کورنیو ویش یا یو په بل کې ګډول او د ولور د اخیستو لپاره د نجلۍ ژر په مېړه ورکول له داسې ستراتېژیو څخه دي چې مطالعه شوې کورنۍ خپلو عوایدو ته د تنوع ورکولو په منظور یا د عوایدو ستونزې ته د حل لاره موندلو لپاره کارولي دي له دغو مواردو څخه یوه یې هم کورنیو ته د پام وړ پایلې ندي لرلي دي او لکه څرنګه چې لاندې مو پرې بحث کړئ دئ غالبا پور او زیاتې شخړې په کورونو کې منځ ته راځي.

## حل کوونکي مکانیزمونه چې ټولنیز او کورنۍ اړیکې ګواښوي

حل کوونکي ستراتېژۍ چې په عام ډول د بېوزلو ښاري کورنیو له خوا په لاره اچول کېږي ښايي ځیني وختونه بدې پایلې ولري هغې ځانګړې پایلې ته چې کېدای شي ورته اشاره وشي د مادي دارایيو کمول دي چې کورنۍ د راتلونکو ګواښونو په نسبت زیان منونکي پرېږدي کورني د دارايیو د کمښت په وخت کې له پور اخیستلو څخه بله لاره نه لري د کورنۍ په نمونه کې د مثال په توګه، ۷۱٪ خلګو له کورنیو څخه او ۳۹٪ له ګاونډیو څخه پورونه اخیستي دي ټولنیزو اړیکو باندې سخت تکیه کول ښايي چې په کورني او ټولنیزو اړیکو کې د ګډوډیو د رامنځته کېدو لامل شي.

همدا شان هغه فشارونه چې د پرله پسې ضربو په وسیله د کورنیو پر عوایدو رامنځته کېږي په کورنیو پخپلمنځوي اړیکو کې د پام وړ ننګونه منځته راوړې د تر مطالعې لاندې کورنیو په منځ کې، څو څو ځله، له ګواښ سره د مقابلې د ستراتېژۍ د مخالفو غړو تر منځ د اخ او ډب راپورونه رارسېدلي دي د مثال په توګه، په یو شمېر کورنیو کې د ولور د اخیستلو لپاره د نجلۍ د په مېړه ورکولو په سر د ښځې او د مېړه تر منځ اخ او ډب پېښ شوی دی.

# وړاندیزونه

د ډېرو زيان منونکو ښاري کورنيو د دارايیو بېخ بنا دومره متنوع نده چې وکولای شي په دوامداره توګه دوی له بېوزلي څخه وژغوري ډېری کورنۍ هغوی چې په ورځني مزدورۍ تکيه کوي يا هغوی چې د ګاونډيو په سرقلفي او ملا تړ تکيه کوي پوره سرچينې په واک کې نلري او دغه مسئله د دوی په حل کوونکو مکانيزمونو فشار راوړي په نتيجه کې دغه کورنۍ لېوال دي چې په لنډمهالو اقداماتو تکيه وکړي او د دې پرځای چې وکولای شي له لږې ناوړې اغېزې سره له بهرنيو تغييراتو څخه راووځي خپل ځانونه د هغه تر فشار لاندې مومي.

١ د عوايدو کمښت ته په پام سره په منظور او په سپما کې يې پاتې والی ژوری کاري ودې ته پراختيا ورکړئ.

- د آزاد بازار اعلان کړای شوې ستراتېژي په افغانستان کې بيا وکتل شي او له هغو مهمو صنعتونو څخه د ملاتړ په منظور ستراتېژۍ چې د کار د کچې له زياتېدو سره يو ځای دي، په پام کې ونيسي.
- ډاډ تر لاسه کړئ چې د کاري فرصتونو کيفيت ته د جوړ شوو کارونو د کميت په کچې جوړ شوو کارونو ته اهميت ورکړل شي کاري کيفيت ته پام اړول کولای شي، پانګې اچونې ته د لومړيتوب ورکولو له لارې په هغو صنعتونو کې چې په پورتنيو مهارتونو او ورکړې ترسيم شوي دي، صورت نيسي.
- په ښاري کاري ځواک کې د ښځو ونډه اخيستل چې د ښځو د کار د ځای د اختيارولو او د ښو شرايطو لرونکي دي او په کې د ښحو ونډې ته ارزښت ورکول کېږي او په ښه توګه دغه ګډون جبران کېږي، آسانتياوې ورته برابرې کړئ چې د لاس مزدي کارونو د تر سره کولو لپاره ډېر وخت د ښځو په واک کې ورکړئ.
- د ښاري بېوزلۍ د کمولو لپاره د ملي پروګرامونو طرح او اجرا کول د ښاري محرومينو د ژوند د کيفيت د ښه کولو لپاره پداسې کچې چې د دوی مسائلو واقعيت ته نږدې وي د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ بهير ته پام وکړئ دغه پروګرامونه بايد په ښاري بېوزلي کې د پرتو بې شمېرو ستونزو اړيکې په ګوته کړي او د هغه په وړاندې يوه منسجمه پاليسي او د کاري زمينو د رامنځته کولو په اړوند ، مهارت جوړول او د ښاري خدمتونو تامين او همدا شان د ښاري حکومت ښه والی لپاره لار واچوئ.

٢ د ګوابښونو د کمولو په اړوند د ټولنيز حمايت پروګرامونه پراخ کړئ او د جهت د تغييرولو له امر څخه او د چاره موندلو او د حلولو په ظرفيت باندې له تکيه کولو ملاتړ وکړئ.

- له ډېرو زيان منونکو ډلو څخه (هغه کورني چې له فزيکي پلوه قوي نارينه کارګې نلري، هغه کورنۍ چې د معلولو غړو عوايدو ته تکيه کوي د ټولنيو ملاتړ ملي پروګرامونو ته وده ورکړئ او د دوی پانګې تامين کړئ). هغو پروګرامونو ته چې د بې برخو د دارايي له تنوع سره مرسته کوي، پانګه واچوئ چې له دوی سره د بېوزلي له خلاصون څخه مرسته وکړئ.

اهدايي مرستې د بېوزلي د کمولو پروګرامونو ته چې له مادي ودې او د فني خدمتونو له تامين څخه وړاندې کېږي، ځانګړي کړئ چې اولنيزې نا امنۍ وننګوئ.

- د ظرفيت د جوړولو او سياسي اراده په ملي او ښاري کچه (دولتي او نادولتي) په لار واچوئ، چې د دوی وړتياوې د ټولنيز ملاتړ د مسئلو په ارتباط په ښاري برخه کې د اړتيا په اندازه زياته کړئ.

٣ لاندې ستراتېژۍ د هغو ګوابښونو د کچې د کمولو په منظور چې په سيمه ييزه کچه کې ښاري کورنۍ ورسره مخ دي، وړاندې شوي دي.

د بسټيزو خدمتونو نړيوال پوښښ، اوبه (بد رفت او روغتيا ساتنه، برق، لارې (سرکونه تضمين کړئ.

- د هغو دولتي او نا دولتي نمايندګيو تر منځ اړيکې او هم غږي چې د خدمتونو په تامين کې ښکېل دي د زدکړو د وېش او د کارونو د توزيع په منظور ښه والی ورکړئ.
- په ورته وخت کې ډاډ ورکړئ چې د بېلا بېلو نمايندګيو فعاليت د ښارې سطحې په اړوند ، فني خلاقيتونه، د خدمتونو د وړاندې کولو د تګلارو د منځته راوړلو لپاره په لېږې پرتو سيمو کې رواج کړئ.
- د خدماتي کارونو د جوړولو شونتيا او د ښاري بېولو اوسېدونکو شاملول (نر او ښځه) د کوچنيو کار جوړونکو په نامه په ګوته کړئ.

۴ د ښاري بې برخو کورنيو لپاره وده ورکړل شوي وسيلې منځته راوړئ، چې مالي مناسبو خدمتونو ته لکه پس انداز او بانکي پورونه او د بيمې محصولاتو ته لاسرسي ومومي.

- مالي مناسبو خدمتونو ته لاسرسي ته وده ورکړئ، او دغه کار ته د خنډونو د له منځه وړلو د پراختيا په وسيله د ښاري کورنيو تر منځ بشپړ کړئ د دغو کورنيو د هڅولو لپاره انګېزې د داسې کارونو د پيل او پراختيا لپاره چې د دوی د عوايدو کچه لوړه شي او په متځمهال کې د دوی د تکيه کولو کچه په پورونو باندې د ورځينو اړتياوو د تامين لپاره او اضطراري حالاتو کم کړئ.
- د بيمې هغه بېلګې چې د افغانستان په هکله د تنظيم وړ دي وارزوی، بې برخې کورنۍ کولای شي په ټولنيزو ډلو کې له غړيتوب څخه چې د پېښو د هزينو د جبران ، ناڅاپه کورني کړکېچونه او نورې ټکان ورکوونکې پېښې چې د بيمې حقوق تر لاسه کوي، ګټه واخلي.

AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit

د افغانستان د څيړنې او ارونې اداره
د ګل فروشی کوخه د(دوهمی کوڅی ګوښه)
نوی ښار، کابل
تلفن +۹۳ (۰) ۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸
areu@areu.org.af
www.areu.org.af